پیشگام
۰۹ جون ۲۰۲۴

## تلیاد مجید کلکاني، د افغانستان د زیارکښانو مخکښ لاربنود

نن د تلیاد مجید کلکاني د مرگ 44 تلین دی، د دې مخکښ، د ولس د کټو مدافع او قاطع مبارز یاد پرتمین ساتو. مجید کلکاني، د پرمختللي غورځنگ، د ولس او د زیارکښانو د آزادي بخښونکي یون او د خپلواکی، ملي حاکمیت، د دموکراتیکي او پر برابرۍ ولاړې ټولنې د مورچل یوه اوځاره، نامي او ځلانده څېره وه.

تلیاد کلکاني د ځوانی په لومړیو کلونو کې د سلگونو نورو روڼاندو په شان، د ولس د هوساینی، ښېرازۍ او نېکمرغۍ په پار د مبارزې لار ونیوله او د ژوند تر پای پورې پر دې لاره لاړ. هغه د افغانستان د نورو مبارزو، مخکښو او تلپاتې څېرو، لکه اکرم یاري، ډاکتر فیض احمد، صادق یاري، سیدال سخندان، قیوم رهبر او داسې نورو مبارزینو په شان زموږ د آزاې بخښونکي غورځنگ ځلانده او سره غمي دي، چې د قربانیو درونای او یاد یې پرتمین ساتل زموږ دنده ده.

مجید کلکاني، د روسانو او د هغه د گوډاگیان پر ضد د یوې آزادي بخښونکي ډلي رهبري په غاړه درلوده. مجید په دې باور و، چې د افغانستان خپلواکي یوازې هغه وخت ثمر ته رسېدلی شي، چې د ببوزلو وگړو هوساینه او نیکمرغي تضمین کړای شي. په همدې باور یې خپله ټوله انرژي، وخت، ژوند د خلکو د آزادۍ لپاره وقف او بلهاري کړ. مجید په دې باور درلود، چې د زیارکښانو تر مینځ قومي کشالې جوړول، ژبني مسئلو ته لمن وهل او توپیر کول، نه یوازې دا چې د یو مخکښ مبارز کار نه دی، بلکې د یو مبارز لپاره شرمناک او کرکجن عمل گڼل کیږي، ځکه له دې سره د آزادۍ او خلاصون په پار د ولس پیوستون زیان مومي. هغه په دې باور درلود، چې د افغانستان کارگران او دهقانان او نور زیارکښه وگړي د پیوستون، یووالي او گډې مبارزې له لارې کولای شي ټولو ستمونو ته د پای ټکی کیږدي.

خو نن متاسفانه گورو، چې جهادي جمعیتیان او شورای نظاریان او نورې ارتجاعي او متعصبې ډلې غواړي مجید د قوم او ژبې په نامه مصادره کړي او په دردناک ډول د دې مخکښ او انقلابي مبارز عکس د «خادم دین رسول الله»، د رباني او مسعود او د نورو جنایتکارانو په کتار کې ثبت کړي. دا که له یوې خوا د مجید د ځلاندې مبارزې سپکاوی دی، له بلې خوا زموږ د اکثریتو لارویانو بی تفاوتي، لټي او غیر انقلابی جوړجاړی ښکاره کوي، چې نه توانېدلی نه یوو چې مجید په واقعي توگه ولس ته وروپېژنو. مجید نه«آغا» و، نه «عیار»؛ هغه د یو انقلابي غورځنگ مخکښ او په پرمختللي اند سمبال یو منضبط، دریځ لرونکی او قاطع لاربنود و.

له تلیاد مجید او نورو مخکښو او مبارزو لاربښودو سره  فرقه ایزه چلند یو پرمختللی او انقلابی فرهنگ نه دی.له بده مرغه لیدل کیږي، چې له دې مخکښو رهبرانو سره فرقه ایزه چلند کیږي. روښانه ده، چې دې مخکښو رهبرانو هر یو، یو سازمان رهبري کوو، خو د ورځې په پای کې دا ټول د یو پرمختللي او انقلابي غورځنگ رهبران وو. که د دې غورځنگ یو غړی یوازې د مجید کلکاني او قیوم «رهبر» یاد پرتمین ساتي او هڅکله د اکرم یاري، صادق یاري او ډاکټر فیض په یاد څو کرښې هم نه لیکي، داسې کس فرقه ایزه ساعتېره «مبارز» دی. که څوک د مجید له مبارزې څخه غږېږي، خو په ورته وخت کې د اکرم یاري او صادق یاري او ډاکټر فیض پر مبارزې چپه خوله پاتې کیږي او سکوت کوي، هر څه کېدای شي، پرته له هغه انقلابي څخه، چې انقلابي غورځنگ ته د یو گُل په سترگه گوري.

ښایي د دې فرهنگ په لا غوړېدلو کار وکړو، چې د پرمختللي او مخکښ غورځنگ تاریخ، مبارزه، شهیدان او تلیاد رهبران خپل وگڼو او د یو گُل په توگه یې یاد پرتمین وساتو. موږ بې له شکه حق لرو، چې پر یو بل نیوکه وکړو، انتقاد وکړو، وړاندیز وکړو او د خپلو تلیادو رهبرانو کړنې، لاسته راوړنې او تېروتنې میزان او عیار کړو.خو په ورته وخت کې دنده لرو، چې یو بل حمایت کړو، د یو بل ملاتړ وکړو او د یو بل مبارزه، تاریخ او تلیاد رهبران د غورځنگ د مبارزې، تاریخ او رهبرانو په توگه ولمانځو او درناوی یې وکړو.

موږ پر دې باور لرو که تلیاد مجید کلکاني ژوندی وی، هغه به همدا درس موږ ته راکړی وی، چې د مخکښ غورځنگ گټه او نفعه، چې د ولسونو او وگړو نفعه ده، له هر څه پورته ده؛ د دې انقلابي غورځنگ مبارزه او تاریخ گډ او مشترک دی او فرقه ایزه چلند یو ارتجاعي او غیر انقلابي کړنه ده. نو موږ ته په کار ده، چې د مجید کلکاني پر لار ودرومو او د غورځنگ له گټې او منافعې په ټوله مانا دفاع وکړو او په بداینې کې لا زیار وکاږو.

د روسانو گوډاگیانو، خلقیانو او پرچمیانو زموږ غورځنگ د مجید کلکاني، اکرم یاري او صادق یاري او جهادي بنسټپالانو له سیدال سخندان، ډاکټر فیض احمد او قیوم رهبر او د سلگونو نوورو انقلابي روڼاندو څخه محروم کړ؛ خو دا غورځنگ به مخ په وړاندې بهانده درومي، که څه هم څپې یې اوس یو څه کراره بهیږي. موږ ډاډه یوو، چې د دې مخکښو مبارزو وینې به یو ځل بیا زموږ د غورځنگ سیند څپانده او بهانده کړي او د ولسونو ژوند به د هوساینې، برابرۍ، آزادۍ او نیمکرغۍ په څپو کې سمسور شي.

د تلیاد مجید کلکاني یاد پرتمین ساتو!